(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| شمېره | سرلیکونه | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | لومړی څپرکی: ټېکنالوجي او سیستم | ۱ |
| ۲ | د ټېکنالوجۍ تکامل | ۲ |
| ۳ | د محصولاتو ارزونه | ۵ |
| ٤ | د ټېکنالوجۍ د محصولاتو د تولید د ساتندوی ټکو رعایت | ٦ |
| ۵ | د ټېکنالوجۍ د محصولاتو ښکلا یا ښایست | ۷ |
| ٦ | سیستم | ۸ |
| ۷ | دوه یم څپرکی: په فني توګه اندازه کول | ۱۱ |
| ۸ | په اندازه کولو کې اصطلاحات او تعریفونه | ۱٤ |
| ۹ | د اندازه کولو وسایل | ۱۵ |
| ۱۰ | پرورنیر کالیپر اندازه کول | ۱۷ |
| ۱۱ | د ورنیر کالیپر د ساتنې څرنګوالی | ۱۹ |
| ۱۲ | درېیم څپرکي، په ودانیو کې د برېښنا سیم غځونه | ۲۲ |
| ۱۳ | یو پله تبدیل سویچ | ۲٤ |
| ۱٤ | د بکس له ټرمینل اود برېښنا له سرچینې سره د سرکټونو نښلول | ۲٦ |
| ۱۵ | څلورم څپرکي، ترکاڼي | ۳۰ |
| ۱٦ | د لرګیو مهم محصولات | ۳۲ |
| ۱۷ | د لرګیو تخریب کوونکي عوامل | ۳٤ |
| ۱۸ | د لرګي د صنایعو د کار افرار | ۳۷ |


(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۹۱ | پنځم څپرکي، د کبانو روزنه او ښوالي | ۳۹ |
| ۲۰ | د کبانو د روزنې چاپیریال | ٤۰ |
| ۲۱ | د کبانو د روزنې خاورین ډنډونه | ٤۱ |
| ۲۲ | د روزنې لاندې کبانو د تغذیې څرنګوالی | ٤۲ |
| ۲۳ | د کبانو تکثیر یا زیاتول | ٤۳ |
| ۲٤ | د ونو تکثیر یا زیاتول | ٤٦ |
| ۲۵ | د نوي بن د جوړولو (احداث) څرنګوالی | ٤۷ |
| ۲٦ | د نیالګیو له نیالو وروسته د هغوی څارنه | ٤۸ |
| ۲۷ | شپږم څپرکي، اخلی پخلی | ٥٤ |
| ۲۸ | په اخلی پخلی کې پاکوالي اهمیت | ٥٦ |
| ۲۹ | د کورنۍ تغذیه او اقتصاد | ٥۷ |
| ۳۰ | د غذایي توکو سمه پخونه | ٥۷ |
| ۳۱ | د افغانستان د کلیوالي ډوډۍ ډولونه | ٥۸ |
| ۳۲ | د پخلي مسالې | ٦۱ |
| ۳۳ | په کلیوالي ډول مربا، چکني او اچار چمتو کول | ٦۳ |
| ۳٤ | په کلیوالي ډول د مربا چمتو کول | ٦٦ |
| ۳۵ | اووم څپرکي، د ودانۍ کارونو په سرته رسولو کې ساتندوی تکې | ٦۸ |
| ۳٦ | پلستر کاري | ۷۲ |
| ۳۷ | د رنګولو په بهیر کې ساتندوی تکې | ۷٤ |
| ۳۸ | رنګول | ۷۵ |
| ۳۹ | له ګچ څخه د ودانیو د رنګونو د جوړولو څرنګوالي | ۷٦ |
| ٤۰ | د رنګونو له پاره د دیوالونو چمتو کول | ۷۷ |
| ٤۱ | عملي کار | ۷۸ |

**کړنه**

په کوچنیو ګروپونو کې لوموړی د بکس ټرمینل کوم چې په مخامخ شکل کې ښودل شوی دی په یوه کاغذ کې رسم او بیا د هغه د سیمانو اتصال د قلم په واسطه پوره کړئ. وروسته هغه خپلو ټولګوالو ته وښیئ او پوښتنو ته یې ځوابونه وائي.




## د ځیرکې لنډیز

- په اوسنی زمانه یا عصر کې زیات کارونه لکه، تولیدي، خدماتي، خپرندوی یا طباعتي، برېښنایي(الکترونیکي) مکالمات، د ټولنیزو اطلاعاتو نشر او خپرونه، د غذایي موادو ساتنه او نور د برېښنا د انرجی په وسیله سرته رسېږي. د نړۍ په پر مخ تللو هېوادونو څو محدود ثانیې د برېښنا بندېدل د ډېر اقتصادي تاوان او مختلفو کارونو د ځنډېدلو باعث ګرځي. دا ټول د برېښنا د انرجی د اهمیت ښکارندوی او برېښنایي شبکو پراخوالی دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## بڼوالي يا باغواني

كوم ډول كښت ته بڼ يا باغ ويل كېږي؟




(٦-٥) شكل، مېوې د ويټامينونو غوره سرچينې دي

د انسان د بدن غذايي اړتياوو كې ويټامينونه، وازدې يا غوړ، املاح(مالگې) او ډول ډول معدني مواد شامل دي. مېوې د مختلفو ويټامينونو په لرلو د انسان د غذايي موادو مهمې سرچينې تشكيلوي. د مېوه لرونكو ونو روزنه له پخوا زمانو څخه تر اوسه پورې د نړۍ په مختلفو سيمو كې دود لري. په نړۍ كې د وگړو زياتېدل او غذايي موادو ته ډېره اړتيا ددې سبب شوي دي چې د غذايي موادو د توليد سرچينې(منابع) او د هغوی له جملې څخه مېوه لرونكي بڼونه(باغونه) په فني ډول ايجاد كړي او په نويو طريقو په اوبه لگونه او له كرنيزو (زراعتي) افتونو سره په مبارزه كې له هغو څخه كار واخيستل شي.

## د يوې ونې اصلي برخې

د ونو كومې برخې په مستقيمه توگه نه شو ليدلای؟

ونې له درې اصلي برخو يعنې ريښه، تنه او جوغې(څانگې او پاڼې) څخه تشكيل شوې ده. په زياترو ونو كې د تنې، څانگو او پاڼو وده د هغوی د ريښو په ودې پورې مستقيمې اړيكې لري. په مختلفو ونو كې د ريښو شكل سره توپير لري. د ځينو ونو ريښې د هغوی د لوړوالي (ارتفاع) څو برابره په ځمكه كې




(٧-٥) شكل د ونې اصلي برخې



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په کلیوالي ډول د مربا چمتو کول

د مربا په جوړولو کې پر الوبالو، منو، بوبي یا بهي او نورو مېوو سربېره د نارنج له پوټکي او ګازرو څخه هم ګټه اخیستل کېږي. په لاندې توګه د نارنج د پوټکي او ګازرو د مربا د جوړولو د ځرنګوالي په هکله معلومات تر مطالعې لاندې نیسو:

### د نارنجو د مربا د جوړولو طریقه

**د اړتیا وړ توکي**: د نارنجو مغز د ۲۶۰ ګرامو په اندازه، بوره یو کیلوګرام، له پوټکي څخه وتلي بادام او پسته ۲۲۰ ګرامه، د لېمو اوبه د غذا خوړلو ۲ کاشوغې او لږ مالګه.

**د جوړولو طریقه**: لومړی د نارنج مغز او یوه کاشوغه مالګه سره ښه وخوټوئ او د خوټېدلو په بهیر کې یې درې ځلې اوبه بدلې کړئ تر څو یې تریخوالی له منځه لاړ شي. په یوه بل لوښي کې بوره او اوبه وخوټوئ. د خوټېدلو په وخت کې د بورې ځګ لرې او د لېمو اوبه ورزیاتې کړئ. د نارنج منځ له اوبو څخه بهر کړئ او څو ځلې یې پرېمنځئ. بیا هغه د بادام او پستې سره یو ځای د بورې په شربت کې واچوئ او په اور یې کېږدئ او تر هغه پورې حرارت ورکړئ تر څو د بورې شربت د کلیکوالي حد ته ورسېږي. په پای کې مربا په سرپوښ لرونکي بوتل کې واچوئ او د خوړلو له پاره یې وساتئ.



(۱۲-۲) شکل، د نارنج مربا



(c) ketabton.com: The Digital Library

